د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
د مطبوعاتو ریاست

هفته نامه آبادي اوونیزه
ABADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
#۳۸
شنبه، د شعبان ۲ مه، ۱۴۴۵ هـ . ق کال




# سرلیکنه

د افغانستان اقتصادي وضعیت په اړه نړیوال بانک د ۲۰۲۴ میلادي کال د جنوري میاشتې په ۳۱مه نېټه راپور خپور کړی. په راپور کې ویل شوي چې تېر ۲۰۲۳ میلادي کال کې د افغانستان د صادراتو په کچه کې زیاتوالی راغلی دی، د ۲۰۲۲ کال په پرتله په ۲۰۲۳ میلادي کال کې د بهرنیو اسعارو پر وړاندې د افغانۍ ارزښت لوړ شوی دی، د خوراکي او غیر خوراکي توکو په بیو کې ټیټوالی راغلی، د ۲۰۲۲ کال په نسبت په ۲۰۲۳ میلادي کال کې د عوایدو کچه لوړه شوې او ددې ټولو په خوا کې د وارداتو اندازه هم پورته شوې وه. د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د یوې اعلامیې په خپرولو سره ددغه راپور هغه برخې چې مثبتې او پر واقعیتونو ولاړې دي، ستایلې او هغه برخې چې له عیني واقعیتونو څخه لرې دي، هغه یې رد کړې دي. په دې راپور کې ویل شوي دي چې د خوراکي او غیر خوراکي توکو بیې ځکه راټیټې شوې دي چې خلک پیسې نه لري. کومې پیسې یې چې درلودې هغه یې لګولې دي او اوس د کار د نشتوالي له امله خلک عاید نه لري. دا او دې ته ورته ځینې نورې برخې له واقعیت څخه لرې دي، ځکه له اسلامي امارت وړاندې د هېواد اقتصاد په بشپړ ډول پر بهرنیو مرستو متکي و. د اسلامي امارت په حاکمیت سره نړیوالې مرستې بندې، د امریکا له خوا د افغانستان بانک شتمني کنګل او اقتصادي بندیزونه ولګېدل. دې چارې په لومړیو کې د عامو وګړو پر ژوند او په بازار کې د لومړنیو توکو پر بیو مستقیمه اغېزه وکړه، د ډالر پر وړاندې د افغانۍ ارزښت راټیټ شو، خو د اسلامي امارت د مسوولو ادارو په تېره بیا مالیې وزارت او د افغانستان بانک له خوا د ځینو بیړنیو او مدبرانه اقداماتو پر مټ د افغانۍ ارزښت کنټرول او مخ پر لوړېدو شوه. همدارنګه ۱۳ هغو دولتي شرکتونو او تصدیو بېرته پر فعالیت پیل وکړ چې چارې یې په ټپه ولاړې وې. د کوچنیو، متوسطو او سترو کانونو د اکتشاف او استخراج چارې پیل شوې، د قوش تېپې کانال څخه نیولې بیا د کمال خان بند، د بخش اباد بند، د کابل شاه و عروس بند، د تخار د نمک آب کانال، دغه راز د کابل- کندهار او د سالنګ لویه لارې بیارغونه او دې ورته په لسګونو نورې پروژې عملا رواني دي. سوداګري پراختیا موندلې، صنعت مخ په غوړېدو دی، په هېواد کې دننه لسګونه کارخونې فعالې شوې دي. په دې برخو کې سلګونو زرو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شوې ده. په ملکي دولتي ادارو کې شاوخوا پنځه سوه زره کسان په دندو بوخت دي، نو دا بیا څنګه کېدای شي، چې خلک دې پیسې ونه لري او د توکو د پېر وړتیا دې له لاسه ورکړې وي. بله دا چې دوی په خپل راپور کې ویلي دي چې د وارداتو کچه لوړه شوې ده، چې خلک پیسې ونه لري نو بیا واردات ولې لوړ شي، له دې څخه معلومه شوه چې د خلکو د پېر توان لوړ شوی او اقتصاد یې ښه شوی دی. نو ښه به دا وي چې د نړیوال بانک په څېر نړیوال بنسټونه په خپلو راپورونو کې عیني واقعیتونه منعکس او پر شویو پرمختګونو سترګې پټې نه کړي.

## کمیسیون اقتصادی طرح نصب سکنرهای الکترونیکی را در ۱۲ بندر گمرکی کشور منظور نمود



۲ مه صفحه

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له ملي پراختیا شرکت څخه لیدنه وکړه



۲ مه صفحه

## د کرنې په سکتور کې د اوبو کوچنیو بندونو ارزښت ته کتنه



٤مه صفحه

# کمیسیون اقتصادی طرح نصب سکنرهای الکترونیکی را در ۱۲ بندر گمرکی کشور منظور نمود



نشست نوبتی کمیسیون اقتصادی که بتاریخ ۱۷ دلو سال روان در قصر مرمرین تدویر گردید، در مورد طرح نصب سکنرهای الکترونیکی در ۱۲ بندر کشور، طرح اقتصادی وزارت شهرسازی و مسکن و شماری موضوعات دیگر بحث شد. این نشست که به ریاست محترم ملا عبدالغنی برادر آخند معاون اقتصادی ریاست الوزراء دایر گردیده بود، بعد از بحث همه جانبه طرح نصب سکنرها در ۱۲ بندر گمرکی کشور منظور گردید. بر اساس این طرح سکتور خصوصی از طریق مشارکت عامه و خصوصی بالای این پروژه در حدود ۸ میلیارد افغانی سرمایه گذاری می نماید.

در جلسۀ کمیسیون اقتصادی روی طرح اقتصادی وزارت شهر سازی و مسکن نیز بحث صورت گرفت. پس از ارزیابی همه جانبه در مورد طرح یاد شده، فیصله شد، که وزارت شهر سازی و مسکن پالیسی‌ساز است، سروی، دیزاین و نظارت از پروژه ها توسط همین وزارت انجام و تطبیق آن مسوولیت وزارت‌خانه‌ها و اداره های مربوطه می باشد.

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له ملي پراختيا شرکت څخه ليدنه وکړه

د ا.ا.ا د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دملي پراختيا شرکت له بېلا بېلو برخو ليدنه وکړه او د هېواد د بيارغونې په برخه کې يې د دې شرکت کړنې وستايلې. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال وويل: ملي پراختيا شرکت په کم وخت کې ښې لاسته راوړنې لري او نړۍ ته يې د اسلامي نظام او افغانانو وړتياوې په ښه ډول ښکاره کړې. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ملي پراختيا شرکت د هڅو د ستاينې تر څنګ له خپل اړخه د هر ډول مرستې او همکارۍ ډاډ ورکړ. د ملي پراختيا شرکت اجرائيوي رئيس محترم عبدالرحمن عطاش، د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ورتګ څخه مننه وکړه او ډاډ يې څرګند کړ، چې ملي پراختيا شرکت د هېواد د آبادۍ او په ځان بسيا کېدو لپاره هراړخيز پلانونه لري او په ځينو يې عملاً کار روان دی.



# د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرينه ماڼۍ کې ترسره شوه



د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې په نوبتي غونډه کې چې د روان لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱٦مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم د يوشمېر اقتصادي موضوعاتو په اړه بحث وشو. يادې غونډې ته د کمال خان بند د دوهم فاز د امکان سنجۍ د لومړنيو مطالعاتو بشپړ راپور وړاندې شو. په غونډه کې تر هراړخيز بحث وروسته د اوبو او انرژۍ او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو او د ملي پراختيا شرکت له استازو څخه جوړې شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د ترسره شوو مطالعاتو په پام کې نيولو سره د امکان سنجۍ دقيق تخنيکي مطالعات ترسره او راپور يې دې د اقتصادي کمېسيون تخنيکي کمېټې ته وړاندې کړي.

همدارنګه د اقتصادي کمېسيون د تخنيکي کمېټې له لوري د هرات – خواف د اوسپنې پټلۍ د څلورمې قطعې پروژې د لومړي فاز د جوړولو پر مالي تمويل خبرې وشوې. د موضوع تر هراړخيزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه چې ماليې وزارت دې د يادې پروژې لپاره د بوديجې ترلاسه کولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام ته ځانګړې وړانديز وکړي. دغه پرېکړه د نهايي تصميم نيونې په موخه اقتصادي کمېسيون ته راجع شوه.

# اعلامیۀ معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء ۱.۱.۱ در پیوند به گزارش اخیر بانک جهانی پیرامون وضعیت اقتصادی افغانستان!

در ارتباط به وضعیت اقتصادی افغانستان گزارشی در ۳۱ ام جنوری ۲۰۲۴ میلادی از سوی بانک جهانی منتشر گردیده است. در این گزارش به پیشرفت های انجام شده در عرصۀ وضعیت اقتصادی افغانستان اشاره گردیده است.

در گزارش آمده است که صادرات افغانستان نسبت به سال ۲۰۲۲ در سال ۲۰۲۳ میلادی افزایش یافته، همچنان در مقایسه به سال ۲۰۲۲ در سال ۲۰۲۳ ارزش پول افغانی در برابر اسعار خارجی افزایش قابل ملاحظه به عمل آمده، در قیمت مواد خوراکی و غیر خوراکی کاهش به وجود آمده، سطح عواید ملی نسبت به سال ۲۰۲۲ در سال ۲۰۲۳ میلادی ازدیاد یافته و ضمن همه این پیشرفت ها میزان واردات نیز افزایش یافته و از این معلوم می شود که سطح توان خرید مردم بلند رفته است.

معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء امارت اسلامی افغانستان، بخش‌های مثبت و مبتنی بر واقعیت های عینی این گزارش را ستایش و بخش‌هایی را که به دور از واقعیت است، رد می کند. معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء از نهاد های بین المللی مانند بانک جهانی می خواهد که در مورد افغانستان واقعیت های عینی را در گزارش های خود منعکس کنند.

امارت اسلامی افغانستان بر این باور است که اگر جامعه جهانی به تعامل مثبت رو آورد، تحریم ها را دور سازد و سرمایه منجمد شده مردم افغانستان را آزاد سازد، افغانستان در پهلوی سایر بخش ها در عرصه اقتصادی پیشرفت قابل ملاحظه‌ای خواهد نمود.

امارت اسلامی افغانستان بر این باور است که اگر سازمان های بین المللی و نهاد های کمک رسان به جای تضاد، تعامل مثبت را اختیار نمایند و در تمویل پروژه های انکشافی با افغانستان همکاری کنند، در نتیجه فرصت های شغلی جدید ایجاد و روی وضعیت اقتصادی کشور اثر مثبت خواهد گذاشت.




# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکايي ډالر | ؋۷۳,۷۰ | ؋۷۳,۷۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۵٦ | ؋۲۵٦ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ؋۱,۳٤ | ؋۱,۳٤ |
| ۱ | اروپايي یورو | ؋۷۹,٤۰ | ؋۷۹,٤٥ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۸۱ | ؋۰,۸۱ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۸۸ | ؋۸۸۸ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۹۳,۰۵ | ؋۹۳,۱۱ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۹,٦۵ | ؋۱۹,٦۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۲۰,۰۷ | ؋۲۰,۰۸ |
| ۱ | چیني ین | ؋۱۰,۲۵ | ؋۱۰,۲۵ |



# د کرنې په سکټور کې د اوبو کوچنيو بندونو ارزښت ته کتنه

**ليکوال: فضل ولي شيراني**



## سريزه

په نړۍ کې د اوبو موسمي نا انډوله وېش له امله د اوبو د لويو زېرمو جوړول يوه اړتيا ده چې انسانانو له ډېرې پخوا درک کړې او د اوبو د مديريت او تنظيم له پاره لاس په کار شوي. د کرنې د پراختيا، د برېښنا توليد او سېلابونو د مخنيوي لپاره يې په سيندونو لوی او کوچني بندونه جوړ کړي دي. زموږ غيرتمنو نيکونو به هم سيندونو ته په ډېر زيار او خواريو د ونو له ښاخونو او ډبرو بندونه جوړول او له دې بندونو څخه به يې د بشري قوې په مرستې تر لرې سيمو پورې د اوبو ويالې غځولې. ددې ويالو په برکت به بيا ټول کال کروندې شنې او زرغونې وې. دغه ويالې به د غرونو او غونډيو په ډډو کې په لوړو سيمو کې کيندل شوې وې او ټيټو سيمو ته به لښتي ورڅخه بهېدل. له دې ډول اوبخور څخه ان تر اوسه پورې ګټه پورته کېږي. خو پر هېواد لومړی د روسانو او بيا د امريکايانو يرغل او دلته شاوخوا څلور لسيزې جګړې زموږ د اوبخور دا دوديز سيستم هم يا له منځه يووړ او يا يې هم سخت زيان ورته ورساوه. اوسمهال په افغانستان کې له يوه لوري وچکالي او له بل لوري د باراني اوبو د کنټرول له پاره د منځنيو او کوچنيو بندونو نشتوالی هغه څه دي چې په هېواد کې يې د کرنې برخه سخته زيانمنه کړې ده. د وچکالۍ د اغېزو له منځه وړلو، په ښه ډول د روانو اوبو ترڅنګ د باراني اوبو د مديريت او د سېلابونو د مخنيوي په موخه د عاليقدر امير المومنين شيخ صاحب حفظه الله د ځانګړي فرمان پر اساس د هېواد په هره ولسوالۍ کې د اوبو د يوه کوچني بند (چک ډېم) د جوړولو امر شوی. اوس مهال په هېواد کې ددې ډول بندونو د جوړولو چارې په چټکۍ سره رواني دي، ادا چې دغه بندونه به د کرنې په وده کې څومره ګټور تماميږي، لاندې يې په ګډه سره لولو.

## د اوبو کوچني بندونه او د کرنې په پراختيا کې يې ونډه

افغانستان د کرنې له پاره پراخې ځمکې او مناسب اقليم لري او تر نيمايي زيات خلک يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. کرنه د افغانستان د اقتصادي ودې يو مهم محرک ګڼل کېږي او د دې هېواد په ملي اقتصاد کې ستر رول لوبوي. کرنه د افغانستان د کورنيو توليداتو د ټوليز ارزښت زياته سلنه جوړوي او هر کال چې د افغانستان په اقتصادي وده کې زياتوالی يا کموالی راځي، نو دا تر ډېره د کرنيز سکټور له امله وي. د افغانستان له ټولې ۶۵ميليونه هکتاره ځمکې څخه ۹ .۶۱ مېليونه هکتاره ځمکه د کرنې وړ ده، چې له دې ځمکې څخه يوازې ۳۲۴. ۵ مېليونه هکتاره يې د کښت وړ او پاتې ۲۸۶. ۴ مېليونه هکتاره د کرنې وړ ځمکه کې کښت نه کېږي. لامل يې د اوبو کمښت دی. د اوبو د کمښت ستونزه نړيواله ده، همدا اوس ډېر کوچني سمندرګي او جهيلونه د وچېدو په حال کې دي او اقليمي بدلون د دښتو د پراختيا لامل شوی دی. افغانستان هم د اقليمي بدلونونو له ناوړه اغېزو څخه خوندي نه دی پاتې او د وچکالۍ له امله يې تر ځمکه لاندې اوبه او کرنه اغېزمن شوي دي. ځينو خلکو په خپلو سيمو کې د څښاک او د کر له پاره د اوبو موندلو په خاطر کوچني بندونه جوړ کړل، خو دا دومره اغېزناک ځکه نه دي تمام شوي، چې نن سبا خلک دومره وس او توان نه لري چې داسې بندونه دې په خپل لګښت جوړ کړي، چې هغه د يوې ولسوالۍ له پاره بسنه وکړي. اسلامي امارت د کرنې ارزښت او د اوبو د کمښت ستونزې هوارې په موخه يو لړ ګامونه پورته کړل. د روانو اوبو له پاره يې کانالونه جوړ کړل او تر څنګ يې د اوبو ستر بندونه يا خو ورغول او يا يې له سره د جوړولو له پاره طرحې جوړې کړې. ددې په څوا کې عاليقدر اميرالمومنين شيخ صاحب حفظه الله فرمان ورکړ چې په هره ولسوالۍ کې دې د باراني اوبو او سېلابونو د مهارولو له پاره د ۴۲۲ د اوبو کوچني بندونه (چک ډېمونه) جوړ شي. له نېکه مرغه اوسمهال د هېواد په زياترو ولسواليو کې ددې ډول بندونو چارې روانې دي او د ډېری هغو چارې پای ته رسېدلې دي. د چک ډېمونو جوړول د اوبو مديريت لپاره په داسې وخت کې چې وچکالي ورځ تر بلې زور اخلي، يو له خورا اغېزناکو چارو څخه ده. زموږ د هېواد جغرافيايي موقعيت، د اقليم بدلون او د اوبو د مديريت په برخه کې د خدماتو نشتوالی هغه ستونزې دي، چې په دې بندونو باندې تر يوه حده مديريت کېدای شي. که فکر وکړو، نو په اصل کې د اوبو لومړنی مديريت له همدې ځايه پيلېږي. ددې ډول بندونو په جوړولو سره به هغه باراني اوبه خوندي شي، چې په ناسمو لارو ځي او آباد ځايونه ويجاړوي. له همدې امله به کار ده له داسې لارو چارو ګټه پورته شي چې پر مټ اوبه

له سېلابي ويجاړيو وړاندې کنټرول شي. د اوبو د کوچنيو بندونو (چک ډيمونو) جوړول ددې کنټرول او مديريت له پاره غوره لار ده. ددې پروژې په بشپړېدو سره به زموږ کومې ځمکې چې شاړې پرتې دي او کرکيله پکې نه کېږي، هغه به تر ډېره بريده اباد او په کرنيزو ځمکو بدلې شي. ددې ترڅنګ به زموږ زياتره کرنيزې ځمکې د سيلابونو له خطر څخه په امن شي. تر څنګ به يې تر ځمکه لاندې اوبه تغذيه او کچه به يې لوړه شي. نو له دې څه جوته شوه چې اسلامي امارت په خپل ټول توان هڅه کوي چې د روانو اوبو ترڅنګ باراني اوبه هم مهار او مديريت کړي. په هېواد کې د اوبو د کوچنيو بندونو په جوړولو سره به زموږ د کرنې په برخه کې بشپړ پرمختګ رامنځته شي او پر مټ به يې اقتصاد پياوړی شي.



## پايله

په ټوله کې که فکر وکړو، د ملي اقتصاد په پياوړي کېدو کې اوبه يو له ارزښتناکو برخو څخه دي، چې نه يوازې د ژوندانه اساسي اړتياوې پوره کوي، بلکې د هېوادونو ترمنځ پر اړيکو او بهرنيو سياسي اړيکو هم اغېزه لري. اسلامي امارت د اوبو دې اهميت ته په کتو سره هڅه کوي چې له اوبو څخه د کرنې د پراختيا په برخه کې ګټه پورته او د کرنيزو محصولاتو کچه لوړه، بازار ورته پيدا او له دې سره د عوايدو کچه زياته کړي. اسلامي امارت د يو مسؤول حکومت په توګه غواړي د کرنې سکټور وده وکړي، نو له همدې امله په دې لټه کې دی چې په دې برخه کې پانګونه راجلب، د اوبو مديريت په سم ډول ترسره او د کرنې د ميکانيزه کولو له پاره کوټلي ګامونه پورته کړي. په هره ولسوالۍ کې د اوبو د کوچنيو بندونو (چک ډيمونو) جوړول يې د همدې لړۍ يوه کړۍ ده. ددې ډول بندونو په جوړېدو سره به له يوه لوري باراني اوبه کنټرول او له بل لوري به د شاړو ځمکو په ابادېدو کې يو ستر بدلون رامنځته شي. کرنيزې ځمکې به زياتې او له دې سره به د کرنيزو محصولاتو کچه لوړه شي. په دې صورت کې به بيا افغانستان د اقتصادي ستونزو د له منځه وړلو ترڅنګ يو پياوړی اقتصاد هم ولري.

